مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

رناګل اریوبزی

۲۰۲۲/۱۲/۲۲

# آیا په اسلام کې علم فرض دی او که مباح دی؟

طالبانو دخپل پخواني حکومت کړنلاره بیرته تکرار کړه اوهغه داچې تر شیږم ټولي پورته یې د جنکیو په زده کړو بند یز ولګاوه.
وایي چي نن سبا په نړۍ کي څه نا څه یو ملیارد اوه سوه ملیونه مسلمانان ژوند کوي، خو داسلامي نړۍ په هیڅ هیواد کي دجونو پرمخ ډښوونځي دروازه نه ده تړل شوې. هلته په دې برخه کې دجونو اوهلکانو ترمنځ توپیراو تبعیض نشته او دواړوته دالله تعلی د بند ګانو په سترګه لیدل کیږي. حقیت دادی چي زموږ طالبان هم ټول په یوه خوله دجنکیو د زده کړو سره مخالف نه دي، ځني یي دجونو زده کړو ته بشپړه ارزښت ورکوي. دوی په دې برخه کې د طالبانو په حاکم سیاست نیوکې هم کوي او ځني یي بیا په خپلو لیکنو کې دعلم زده کړه په دواړو، نارینه اوښځینه، جنس فرض ګني او داسې هم ویل کیږي چي دځینو طالبانو لورګاني په بهرنیو هیوادونو کې ښوونځیو ته ځي. خو ښکاري چي داسلامي امارت د پیروانو دا ډ له د تعلیمي سیاست په برخه کې دخپل فکر د پیاده کولووس نه لري. دابلي، په ښکاره زوروري، ډ لي یي بیا دعقل سره چندان جوړه نه ده اودعقلي علومو زده کړه له سره مباح ګني. مباح هغه څه ته ویل کیږي چي نه یې ثواب وي اونه یې عذاب وي، نه ګټه لري او نه زیان رسوي. مانا داچي دروغتیایي چارو کوم کار پوه او یا کار پوهي چي په دې څانګه کې کومي زده کړي کړي دي او دهغوی په مټ د ناروغانو درملي کوي، یومسلمان اویو انسان د درملو په مرسته له ساري ناروغیوساتي اویایي د ناروغیوعلاج کوي او په همدې ډول د کرنې هغه کار پوهان چي، په خپل کسب دلوړې په ضد د کرنیزو محصولاتود اصلاح او پرمختګ له پاره هلي ځلي کوي او لنډه داچي ټولوعقلي علومو ته لاس رسی او دبشریت په خد مت کې دهغوی کارول مباح اعمال دي اوکه چیرې دامیرالمؤمنین دامرسره په ضد کې واقع شي، نوبیا دامیرالمؤمنین امر واجب الاجراکیږي. دا په ظاهره د د ین د شمې پټنګان خو د د ین نه بې خبره ملایان په دې بې بنسټه دلایلو هغه اوامرو دفاع کوي چي له مخې یې دافغاني جونو په وړاندې تر شپږم ټولګي پورته ښوونځیو دروازې تړل شوي دي.
موږ د طالبانواو یا په طالبانو کې دچاپلوسانوله دې دریځ سره داسلامي ارشاداتو په چوکاټ کې موافقه نه شو کولی،ځکه چي داسلام پیغمبر ړاته فرمایلي دي چي:« بې عمله علم بې ګټې او بې علمه عمل تباهي ده.» ریښتیا داده چي د نړۍ په کوم ګوټ کې چي علم نشته اویا کمزوری دی، هلته اعمال هم تباه کوونکي دي، زور او وحشت حاکم دي، حق او عدالت تړپینولاندي دي، دژوند په هره برخه کې وروسته پاتي والی، بې وزلي، بې وسي اوناروغی ولسونه ځوروي، تردې چي دنابودۍ سره یې مخامخ کوي. دا علم،عالمان اودبیلابیلو پوهنیزو څانګو ماهران دي چي د دې ټولوټولنیزو ناخوالیو په ضد اغیزناکه مبارزه کولی شي او دخدای مخلوق ته د ژوند په بیلا بیلو برخو کې حیاتي اسانتیاوې را منځ ته کولی شي اورامنځ ته کوي یې. داسلام پیغمبر حضرت محمد مصطفی ( ص ) په اسلام کې دالله مخلوق سره دمرستي دمقام په هکله فرمایې چې:« تر ایمان وروسته تر ټولو لویه ښیګنه دالله مخلوق ته اسانتیاوې برابرول دي.» دا نن سبا چي دالله مخلوق د ژوند په بیلابیلو برخو- دمادي نعمتونو په تولید، ترانسپورت، مخابراتو، استوګني، روغتیا اونوروکې کومې اسانتیاوې او پرمختګونه وینو، په دې ټولوکې پوهه اود پوهانوکار اوزیارغوځ رول لوبوي. د دې له پاره چي هر مؤمین او هره مؤ مینه دالله مخلوق ته دلویو اسانتیاوود رامنځ ته کولو جوګه شي، اسلام اواسلامي امت ترقي وکړي نو لوی پرورد ګارپه هرمسلمان – نر اوښځه - د علم زده کړه فرض کړې ده.
داسلام پیغمبر( ص ) فرمایي چي:« دعلم زده کړه په هر مسلمان نر او ښځه فرض ده.» د لته دوه ټکي د پام وړ دي: لومړی داچي د ټولو نورومقدسوا سناد و( آیاتونواوحد یثونو ) په شان په دې مبارک حد یث کې هم د ( علم ) ټکی راغلی، علم دیوه واحد بهیر په توګه پیژندل شوی دی او په د یني، عقلي اویا عصري علومو نه دی ویشل شوی. دوهم داچي علم په دواړو(نارینه اوښځینه) جنسونو فرض دی. اوس نو هغه څه چي داسلام پیغمبر فرض بللي دي، دهیڅ په اصطلاح دیني عالم په خوله مباح کیدلی نه شي. نوځکه د تعلیم د مخنیوي په هکله د هر آمر یا مامور امرد دیني فرض سره ټکر دی اودا تضاد دین او هم د نیا ته لوی خطر دی. دا چي علم فرض دی، نوزده کول یې د فرض


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ادا کول دي او د فرض ادا کول بيا په خپل واردين دی اوعباد ت دی. له بلې خوا دعلم په مرسته ټولنيزو ناخواليو، لوږې، بې وزلی، رنځوری، بې وسی، کمزوری اونوروبد مرغيو ته ماته ورکولی شواو دهيواد دفاعي ځواکمني تقويه کولی شو. په رڼو سترګو وينو چې په پوهه يانې ډول ډول مسلکونو، کسبونواو هنرونو سنبال ولسونه ازاد ولسونه دي، شتمن او اباد ولسونه دي. د دوی په ازادۍ هيڅوک تيری کولی نه شي، دسوکالۍ او پر مختګ مخه يې نيولی نشي. خوشال خان خټک دخپلې پراخې اوژورې پوهې له مخې داسلام په پاک د ين کې دعلم په ارزښت ښه پوه شوی و، نو خکه ليکي چې:

**په دنيا چې تور اوسپين دی واړه علــم وتــه مبېــن دی**
**علــم ديــن دی هم د نيا دی د بــا د شــاه هــم دګــدا دی**

**چې فقــير وي علم زده کا خدای يې لــويــه مرتبه کا**
**په هر نيک، په بد اشنا شي د د نيا، د دين باد شاه شي**

**پــوهــه واړه عنــايت دی غــوره لار دعبــا د ت دی**
**غــوره پــوهـــه ده وماته له طاعات لــه عباد ا ته**

وايي چې زموږ هيواد، ګران افغانستان، دطبيعي زيرموله مخې دسيمې تر ټولو شتمن هيواد دی، خو دولس بې وزلي او بې وسي مو په نړۍ کې سارى نه لري. له بيوزلۍ د بد ن غړي اوکوچني اولادونه پلورو او بې وسه او کمزوري خو ځکه يو چې دخپلو طبيعي شتمنيو نه د ګټې اخيستنې تکنالوژيکي توان او په ټول هيواد کې ديوه هوايي ډ ګرد کنترولولو فني او مسلکي قابليت نه لرواو دا توان په ښوونځيو، پوهنتونونو او پوهنځيو کې په زده کړو تر لاسه کيږي. طالب مشران بايد په دې پوه شي چې د جنګ، دځان په وژنه د بل دوژلو له لارې به په د ښمن نظامي برى تر لاسه کيږي، خو دخپلواکۍ بشپړول اوساتل د بې وزلۍ اوبې وسۍ نه د مسلمان ملت په ازادولو پورې اړه لري او دا کارد ټوپک او سوټک په زور نه کيږي، داکار دسر او مټو کار دي اودا د ټولنيز ژوند په بيلا بيلو برخو کې دعلم په تکنالوژيکي استعمال پورې اړه لري. ځوک چې ځان ديني عالم اويا مولا بولي او تراوسه داسلام په مبين دين کې دعلم ارزښت او مقام نه پيژني، هغه پوره ملا نه دی، هغه نيم ملا دی او نيم ملا بلا د دين دی هم د د نيا دی. پاس مو وليدل چې د مبارک حد يث له مخې:« بې علمه عمل تباهي ده.» مانا داچې بی علمه ژوند دينداري او نيکمرغي نه دی بلکې جهل دی، ظلمت اوبربادي دی. ځوک مو که نراوياښځه له علمه بې برخې کوي، په حقيقت کې مو ژوندي په ګور کوي، دا نو زموږد ين، هيواد او هيواد وال سره لويه جفا ده، ستره ګناه ده بايد مخه يې ونيول شي.
په ډيره خواشينۍ مې دپورته کرښو دليکلو په ترځ کې دا خبر تر لاسه کړ چې:« ټول امارتي، دولتي او خصوصي پوهنتونونه او موسسات دې دجونو د تحصلاتو دتعطيل حکم په عاجل ډول عملي کړي او وزارت ته دې اطمينان ورکړي.» په خبر کې راغلي دي چې دغه اعلاميه دطالبانو دلوړوزده کړو وزارت له خوا خپره شوې او د دې وزارت سرپرست وزير ملا ندا محمد لاسليک کړى ده. وايي چې شيخ ندا محمد ملا هبت الله ته ځان ډير وفادار ښيي او په خپل دې اقدام يې وښوده چې امرته يې دالهی اياتونواو نبوي حديثونو څخه لوړ ارزښت ورکوي. دملا ندا محمد دا اقدام اسلامي اوعلمي بنسټ نه لري، د پټو سترګو اطاعت محصول اوبې علمه عمل دی. بې علمه عمل لکه څنګه چې داسلام پيغمبر( ص ) فرمايلي دي تبا هي ده، د دين او دنيا تباهي ده.
دا نه وايم چې ګوندې طالبان له سره شيطانان دي، تل په شرلګيا دي او خير نه رسوي. دغلو او لوټمارانو بې واکه کول، دنسبي اميت ټينګول، تر يوه حده د فساد مخه نيول او دښځو د ولور منع کول، دا ټول نيک کارونه دي، خلک يې هم مني او هرکلی يې کوي. خو دعلم اوښځوسره ديو شمير طالبانوبې سارې دښمني دا ټول ترسيوري لاندې راولي و دټول ملت، دټول عالم اسلام اوحتا دځينو طالبانو نارضايتي اوغوسه راپاروي اودا ټول حق هم لري، ځکه دنړۍ مسلمانان ورځ تر بله په دې حقيقت پو هيږي چې بې علمي ديني اودنيوي کمزوري ده، بې علمۍ او ناپوهۍ دتاريخ په اوږدو کې کمزوري کړې دي، دنورو تر حاکميت لانې يې راوستلي او نورو ته اړ کړي دي. يوازې منجمد سرونه په دې نه پوهيږي چې نورو ته اړولسونه ازاد ولسونه نه دي. دازادۍ رښتينې مانا يو په بل پسې داړتياوو له منځه وړل دي او دا کارد علم، فن او مسلک په مرسته تر سره کيدلی شي. د علم، فن اومسلک نه محروميت په فقر، بې وزلۍ او بې وسۍ دايمي محکوميت دی. دجونو دزده کړې په هکله دطالبانوروان سياست ښيي چې افغان ولس دبربادۍ په لوررروانوي. اوس نو دټولو هيواد والو ديني او ميلي دنده ده چې لاس په کارشي اود دې ناورين مخه ونيسي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ